مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۴/۰۴/۰۶

# د وطن مینه

له تک شنه او ساړه ایبټ آباده بیرته خپل سپیره او ګرم کیمپ، هریپور ته را روان وو. مور مې موټر کې ښیښې طرف ته ناسته وه. چې ځنګه له یوه اوږده پول راتیر شوو؛ نو د ماښام د اذان خوږې کلمې د جومات له منارې لکه سپینې کوترې والوتې. دا ځای یې حویلیان باله. د غره ډډه کې د کورونو ځراغونه روښانه ول. مور مې له ښیښې د غره همدې روښانه ډډې ته کتلې او تر ډیره یې سترګې په هماغه لور کږې وې. چې بیرته یې مخ راواړوه سترګو کې یې اوښکې وځلیدې. ما ویل اخ، لکه چې ناروغي یې بیا شدیده شوه. وارخطا شوم، ومې پوښتل: کوم ځای دې درد کوي؟ د هغې ځواب په ستوني کې نښتی و، د سر په خوځولو یې د درد خبره رد کړه. سر یې شاته پر څوکۍ کیښود، لکه یو اور چې یې په زړه کې بل شوی وي او دا یې د ګُل کولو هڅه کوي؛ خو وس یې نه رسیږي.
بیا مې ترې وپوښتل: څه وشول؟ هغې را وکتلې، اوښکې یې د ښو څوکو کې را پنډې وې، په بند بند غږ یې وویل:
دا ځای راته د کابل دهمزنګ غوندې ښکاره شو.
او،
نور یې ورو ورو سلګۍ شروع کړې.
آه وطنه!
څه جادوګره مینه دې ده؛ نه در کې چا ارام او خوشحاله ژوند وکړ، نه د ژوند په قدر پوه شول، نه در کې د ژوند له رنګینیو برخمن شول؛ خو بیا هم ستا عشق د مخلصو اولادونو په رګ رګ کې لکه بلې لمبې ځغلي او جدایي دې د زړه رګونه سیزي.
ملګرو!
چې اوس هم کله د کابل ښار په غرونو کې رڼاوې وینم؛ د خپلې خدای بخښلې مور د جلا وطنۍ او ښکې رایادې شي؛ داسې یې ګڼم لکه دا هر ځراغ چې زما د مور په اوښکو بلیږي.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولۍ